# په قبائلي پښتني ټولنه کښې د وادهٔ ارزښت ، رسمونه او رواجونه

## Significance of Marriage in Pashtun Tribal Society: Rituals and Customs

هاجره مندوخېل*
ډاکټر برکت شاه کاکړ•

**Abstract:**

Marriage has been one of the very ancient social practice that shape family, and society at larger level. The study of different cultures and societies show that marriage rites, customs and norms have been different in different parts of the world. Pashtun tribal society has its subjective significance for perpetuating marriage as custom and social practice. This paper shows that the central essence of marriage in the Pashtun tribal society to perpetuate an extended family structure which can only be possible with giving birth to as many sons as possible. The patriarchal notions of social organizations give birth to all the customs and rituals which are further stemmed in the economic and religious rationalism to bride price, customs and rituals of marriage.

**Key Words:** Pashtun, Marriage, Patriarchy, Polygamy, Tribalism.

د لرغونو انساني ټولنو د مطالعې څخه دا خبره جوتيږي چي انسانانو په تدريجي ډول د واده دود دستور تخليق کړي دي. ډېرى داسي ټولني پاتي شوي دي چيري چي د واده پرته هم خاندانونو په يوه نه يوه شکل کښې خپل وجود قائم ساتلى دى او د انساني ټولني ورغښت ته يې لاره هواره کړې ده. هغه ټولني چي ګزران به يې پر ښکار ؤ هلته د خاندان تصور تر واده لومړى پاتي شوى دى، کوشنيان روزل د مور د هغه وروسته د ټول ټبر مشترکه ذمه واري وه.

د واده او خاندان پر تاريخ پلټني دا حقيقت را سپړي چي په تېرو پينځه زره کلونو کښې د واده اداره د پرله پسې بدلون سره مخامخ شوې ده چي اثر يې نېغ په نېغه پر انساني ټولني شوى دى. ستيفن کونټس چي په اولمپيا کښې د ايورګرين کالج پروفيسر دى په خپله يوه مقاله کښې ليکي چي.

> "د واده کوم دودونه چي نن موږ د نړۍ په بيلابيلو سيمو کښې وينو هغه داسي نه چي اوس تخليق شوي دي، بلکه د دې تر شا د زرګونو کلونو تاريخي عمل پاتي شوى دى".(1)

په دغه مقاله کښې ليکوال مخته ليکي چي د خاندان کومي ستونزي نن وجود لري لکه طلاق، جلا کېدل (عليحدګي)، د ښځې پريکړ سر د کوشنيانو روزنه کول، يا د خپل جنس د خلګو سره ودونه کول، دا ټول د زرګونو کلونو په تاريخ کښې د نړۍ په يوه نه يوه ټولنه کښې دود پاتي شوي دي او خپل ټولنيز جواز يې درلودلى دى.

---

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto,University of Balochistan, Quetta
• Assistant Professor, Department of Pashto,University of Balochistan, Quetta

د واده دودونه د ټولني د نوري دودونو او قدرونوغونډي په یوه خاص ټولنیز او معاشي چاپېریال کښې واقعه کیږي. لکه وختي چي مو ؤ وئیل چي هغه ټولنه چي ګزر بسر یې پر ښکار ؤ هلته د واده دود، او نارینه او ښځینه تر مینځ تعلق او د ښځېنه یا نارینه پر جنسي ژوند ضابطه بندي د هغې ټولني څخه بالکل بدل دي چیري چي د ژوند اربه د کښت او کروندې په سوب اوړي. هم دغه توپیر د زرعي ټولني او د ښاري ټولني په دود دستور کښې موږ ته په نظر راځي. دواده پر مراسیمو او دودونو یوبل بنیادي اثر د نیچر یا طبیعت هم دی، د یخي او غرنۍ سیمو او د تودې او میداني سیمو دخلګو په عمومي مزاج کښې د مځکي او آسمان فرق وي، هم دغه فرق د واده، کوزدې یاد خاندان د رغښت په حقله هم خپل ځان څرګندوي.

د پورتني بحث څخه دا خبره جوته شوه چي د واده رواج او رسم یو داسي متفقه معیار ترتیبول تقریبا ناممکن دی، چي په هره ټولنه کښې دي د منلو وړ وي. د واده تر ټولو عمومي ډول د یوه سړي او یوې ښځې په منځ کښي تړون (نکاح یا څه بله معاهده) وي ، چي په ځیني ټولنو کښې په رسمي توګه تر سره کیږې او په ځینو کښې بیا د یو عادي تړون وي. د واده و دې ډول ته یک زوجګي (Monogamy) وائي. مګر په ځیني ټولنو کښې د یوه سړي له څو ښځو سره واده کوي چي ورته (Polygamy) وئیل کیږي، هم دغه ډول په ځیني ټولنو کښي د یوې ښځي له څو سړیو سره د واده تړون وي چي ورته د (Polyandry) رواج وئیل کیږي. د ودونو اول دوه ذکرشوي ډولونه په پښتنیټولني کښې مستعمل هم دي او ټولنیز جواز هم لري،خو د دریېم ډول تړون په حقله پښتني ټولنه هیڅ جواز او قبولیت نه ورته لري.

هم دغه ډول ځیني ټولني یا ټولنیزي ډلې د واده لپاره ښځي د خپل ایل او خېل څخه باهر نه ودوي چي ورته (endogamy) وئیل کیږي،دا عمل په عمومي توګه په هغو ټولنو کښې موجود وي چي د ځنګلورو ټولنو یا قبیلوسره یې بلدتیا نه وي یا یې ښه تجربې ورسره نه وي پاتي شوي. د پښتون وطن په بیلا بیلو کلتوري ساحو کښې موږ ته داسي کلي، او خېل په نظر راځي چي د خپلي قبیلې یا سیمي څخه باهر وبل خېل یا ټبر ته نه انجلۍ ورکوي او نه یې ځیني غواړي. د دې بیلابېل معاشي، قبیلوي، ټولنیز او نسبي لاملونه دي. البته چیري چي انسانان تر قبائلي، پېښنه ور، ډله ایز او ژبني توپیرونو پرته سره یو ځای شوي دي هلته بیا دغه دود دستور هم د ماتي سره مخامخ شوی دی او خلګو د خپلو خاندانونه او قبیلو څخه دباندي هم ودونه کړي دي.

ایډورډ بي. ټېلر (Edward B. Tylor) د انساني تهذیب او دخاندان د تشکیل په عمل کښې د واده د اداري ژوره مطاله کړې ده، هغه د نړۍ ډېرو سیمو ته تللی ؤ چي وروسته یې یو ډېر وتلي کتاب و لیکلو چي سرلیک یې د (Anthropology–An introduction to the study of man and civilization) دی. هغه په خپل دې کتاب کښې د واده په هکله داسي لیکي:

"Society is always made up of families or households bound together by kindly ties, controlled by rules of marriages and the duties of parent and child…, marriage is in early stages of society a civil contract…, Marriage has been here spoken of first, because upon it depends the family, on which the whole framework of society is founded"(2)

**ژباړه**: ټولنه تل له کورنیو یا ټبرونو څخه جوړیږي کوم چي د رحم په پړې سره تړلې وي، دغه تړون د واده د ځینو قواعدو او بچیانو او مور و پلار د فرائضو ته د غاړه ایښودلو په نتیجه کښې په وجود کښې راځي. واده د ټولني په اولني پړاونو کښې یو مدني تړون ؤ...، واده لومړیتوبلري ولې چي د یوه خاندان دجوړښت انحصار پر واده وي، د هغه وروسته د ټولني رغښت هم د دې اداري (خاندان) په صورت کښې په وجود کښې راځي.

ایډورډ ټېلر زموږ د عادي ژوند یوه عامه پدیده (مظهر) زموږ و مخ ته ایښې ده، د اردو تکړه لیکوال سبط حسن په خپل کتاب کښې لیکي چي دواده دود دستور هغه وخت دود شو کله چي کله انسانانو د جنسي عمل او د کوشنیانو تر مینځ په تعلق باندي خبر شول هم ، او د زرعي انقلابه وروسته د زرعي اجناسو د زیاتوب یا سرمایې د ملکیت تصور زیږون وکړ.

**د واده ارزښت، یوه لنډه تاریخي څېړنه**:

که چیري د واده د دودونه څېړنه وشي نو په دې حقیقت به خبرشو چي ډېر دودونه په دې حقله داسي دي چي بشپړۀ مزهبي او عقیدوي جواز لري، ځیني داسي رسمونه دي چي تعلق یې د ټولني د اجتماعي نفسیاتو، کرکو کړنو او اساطیري قیصو سره وي، او ځینو بیا داسي هم دي چي تعلق یې د معاشي روابطو سره جوړیږي.

خو واده دانساني نسل د ډېرښت او پائیښت تر ټولو بنیادي وسیله پاتي شوی‌دی. که چیري موږ د قرآن مجید مطالعه وکړو نو په تکرار سره دا مضمون مخ ته راځي چي ټول انسانان د یوه نر او ښځي اولاده چي . په سوره الحجرات (آیت ۱۳) ، النسا (آیت ۱)، المائده (آیت ۲۷) ، اوپه داسې نورو مبارکو آیتونو کښې خدای تعالی د انساني نسل دپائیښت او ډېرښت عمل بیان کړی دی. په سوره المائده، آیت ۲۷ کښې چي چیري د حضرت آدم علیه السلام د دوو زامنو هابیل او قابیل تر مینځ د شخړې بیان راځي چي وروسته یو ورور (قابیل) هغه بل (هابیل) ؤوژني، هم بنیادي لامل یې د خوښي واده بیان شوی دی. تفسیر ابن کثیر د دغه یادشوي آیت اوواقعې نور تفصیل داسي راوړئ دی :

"It was narrated and quoted by more than one of the earlier and later scholars, that Allah prescribes that Adam (Peace be upon him) should marry his daughters to his sons as a matter of necessity. But they said a male and female were born from each pregnancy, so he would marry the female from one pregnancy to the male from another"(3).

**ژباړه**: دغه خبره دیوه څخه د زیاتو پخوانیو او ورستنیو علماوو څخه را نقل شوې ده چي الله تعالی و حضرت آدم علیه السلام ته هدایت ور کړو چي هغه بائید د خپلو لونو او زامنو تر مینځ ودونه وکړي. خوداسي دي وکړل شي چي کوم غبرګولي (هلک اوانجلۍ) چي په یوه وار سره وزېږي هغه دي د هغه هلک او انجلۍ سره واده کړل شي چي په بله پلا زېږېدلي وي.

په هم دې لړ کښې تفسیر ابن کثیر مخته لیکي چي د قابیل سره چي کومه غبرګولۍ خور زیږېدلې وه هغه ډېره حسن داره وه او د هابیل خور بې خوله وه، قابیل غوښت چي د خپلي خور سره واده وکړي، حضرت آدم علیه السلام ورته و فرمائیل چي تاسو دواړه قرباني و ښندۍ چي د کوم یوه قرباني خدای قبوله کړه، د هغه واده به د هغې سره کیږي، دغه ډول دهابیل قرباني قبوله شوه،خوقابیل لوظ مات کړ، د خدای د دې حکم څخه یې سر غړونه وکړه، سرکښنه شو اودتاریخ لومړی قاتل جوړشو.

د دې تاریخي واقعې څخه یوه خبره دا جوتیږي چي واده د انساني نسل د پائیښت او ډېرښت تر ټولو بنیادي عامل دی چي ورڅخه انساني خاندانونه، ټبرونو، قبیلو او قومونه ورڅخه تشکیل کیږي.

په پېل کښې به د مځکي پر مخ د انساني نسل زیږون، پائیښت او ډېرښت یقینا مقصود بالذات، یعني پخپله یو ستر مقصد ؤ ولي چي د ډېرښت په نتیجه کښې انسانانو د فطرت د جبر مخ نیوی هم کولی شو، د خپل خوراک ، څیښاک، او پوښاک انتظام یې هم کولی شو او هغه ځناورو څخه یې هم ځان ژغورلی شو کوم چي د نوکانو، منګولو ، داړو او طاقت له لحاظه پر انسانانو ښېښ وو. ګوا موږ دې حقیقت ته رسیږو چي د انساني نسل ډېرښت په خپله د هغوی د بقا او فلاح ضمانت دی، اودغه عمل د ودونو او د خاندانونو د جوړولو او د کوشنیانود پیدا کولو اوروزلو په نتیجه کښې پر مخ ځي.

## لرغونې پښتني ټولنه واده څنګه ارزوي؟

کله چي موږ د لرغوني پښتني ټولني تاریخي مطالعه کوو نو لا محاله زموږ نظر د علم او معلوماتو و هغه وسیلو ته غزیږي کوم چي د یوې شفاهي ټولني سره وي، شفاهي ټولنه چي تکیه پر شفاهي روایت وي هلته د ټولنیز، کلتوري، سیاسي او ادبي تاریخ بنیادي منابع اولسي ادب وي، یا بیا د قبیلوي جنګونو، کوچونو، تاړاکونه او چپاؤنو هغه داستانونه دي چي ځیني په منظومه توګه او ځیني په منثور ډول تر موږ پوري را راسېدلي دي.

د موضوع سره اړوند چي کله موږ د واده د ټولنیز ارزښت خبره کوو نو تر ټولو اول مو د بېټ نیکه مناجات و سترګو ته و دریږي. بېټ نیکه چي په لسمه میلادي صدۍ کښې یې ژوند اتکل کیږي او د سلېمان ماکو په تذکره اولیا کښې یې د شعر نمونه راوړل شوې ده په خپلو مناجاتو کښې د خدای

څخه د خپل نسل د ډېرښت او پائیښت لپاره لاس په دوعا دی. د هغه مناجاتو دا لاندینیوکړیو ته په خصوصي توګه کتل پکار دي:

"دا وګړي د ېر کړې خدایه
لویه خدایه لویه خدایه
دلته لږ زموږ اوربل دی
ووړ کورګی دی ووړ بورجل دی
مېنه ستا کي موږ مېشته یو
بل د چا په مله تله نه یو
هسک او مځکه نغښته ستا ده
د مړو وده له تاده
دا پالنه ستاده خدایه
لویه خدایه لویه خدایه" ( 4)

که چیري موږ د دې نظم موضوعاتي څېړنه وکړو نو په دې کښې وګړي، کورګی، بورجل، مېنه، مړونه، او پالنه داسي ټکي دي چي په هر لحاظ د انساني نسل د بقا لپاره د علامتونو او استعارو په ډول کارول کیږي.

اروابناد عبدالرؤف بېنوا په خپل کتاب د افغانستان نومیالي کښې د بېټ نیکه دغه مناجات او د ریګ ویدا دوعائیه شعرونه سره پر تله کړي دي. دلته د هغه مخصوص وید متن او حواله را نکل کوو.

"لوی خدای د ژوندون واکمن دی، مالک الملک دی، دی ښاغلې کورنۍ وګړو ته ورکوي، خدایه موږ ستا مریي یو، بې اولاده بې ښېګڼې مو مه وژنې." (5)

د بېټ نیکه د دې دوعا پس منظر هم دغه دی چي هغه د خپل ټبر او قوم د ناپید کیدلو یا ورکیدلود خطر سره مخامخ دی، انساني تاریخ په تکرارسره د لږو خلګو یا لږو وګړو د ورکېدلو د واقعاتو ثقه ثبوتونه زموږ و مخ ته اینبي دي. د ورکېدو مطلب دلته یوائې د فطرت یا انسانانو له لاسه فنا کیدل یا ختم کیدل نه دی، بلکه په معنوي او تاریخي لحاظ د خپل نسل، ژبې، کلتور او خاوري څخه پرې کېدل او په یوه بله انساني ډله کښې ضم کیدل او ورکېدل هم د تاریخي عمل یوه تکراري رویه ده.

**د کم عمرۍ ودونه، علت او جواز:**

د واده په وخت کښې د انجلۍ او هلک د عمرونو تناسب څه وي؟ دا هم یو داسي ذاویه ده چي ورڅخه و موږ ته د واده د مقصد پته لګیږي. په لرغوني هندوستان کښې د کوشنیوالي ودونه عام وو، د مرزا غالب او کرم چند موهنداس ګاندهي د دواړو ودونو په هلکوالي شوي وو،په هندوستان کي د کم عمرۍ د واده تر شا مذهبي لاملونه وو. په کال ۱۹۲۷کښې یوې امریکي لیکوالي (Mayo,

(Katherine) د هندوستان پر ټولنیز او کلتوري ژوند یو کتاب (Mother India) ولیکلو چي پکښې د هندوستاني ټولني داخلي تضادات په ګوته شوي وو. هغې لیکلي دي چي،

"Ancient Hinudu Religious teachings are cited to prove that the marriage of immature has not original scriptural sanctions".(6)

**ژباړه**: د هندو مذهب لرغوني تعلیمات ځکه مخته راوړل کیږي چي دا ثابته کړل شي چي دکم عمرۍ پر واده د مذهبي کتابونه له خوا هیڅ ډول بندیز نه دی لګول شوی.

د کم عمرۍ دا واده یو منطق چي هندوستاني ټولنه یې وړاندي کوي هغه دا ده چي د کم عمرۍ په ودونو کښې مېړه او ماینه نارینه اولاد زېږوي، او د ضعف په عمر کښې بیا انجونه زېږوي".

علي عباس جلال پوري په خپل کتاب رسوم اقوام کښې لیکي چي

"د جلال الدین اکبر (اکبرباچا) په زمانه کښې هم د دې دود د مخ نیوي هڅې وشوې خو ځای یې ونه نیو". (7)

هم دغه دود په پښتنو کښې هم ؤ. د پښتنو د ژوند ژواک ،ټولنیز رغښت او قبیلوپه حقله تر ټولواولنی جامع کتاب ماونټسوارټ الفنسټن په کال ۱۸۱۰ کښې لیکلی دی، هغه د واده په وخت د هلک او انجلۍ د عمرونو په حقله لیکي:

"د پښتنو په ټول ملک کي عموماً د ښځې د پاره د واده عمر شوارلس، پینځلس یا شپاړس او د نارینه د پاره اتلس یا شل کاله وي، هغه نارینه چې د ښځو د ولور وروکولو وس یا توان نه لري، تر ځلوېښتو کالو پورې جره پاته کېږي او ډېغله کله کله تر پینځه ویشت کلونو پورې په کور کي ناستې وي، له بلې خوا شتمن کسان کله کله د بلوغ د وخت له مخه واده کوي، د ښار خلک هم د وخته واده کوي او شرقي پښتانه د پینځلس کلونو هلکانو د پاره دوولس کلنۍ نجونه ودوي، او ان کله کله چي په وسه کې یې وي تر هغو د مخه هم واده ورته کوي، لوېدیځ پښتانه هلکانو ته تر هغو چي پخې ځوانۍ ته نه وي رسېدلی او ږیره یې نه وي شوې، واده نه کوي، د هیواد په ټولو برخو کې هغه سن چي په هغه کې هر هر فرد واده کوي، د ده په هغه استعداد پورې اړه لري چي د ولور پیسې ورکړای شي او د کورني ژوند تامین کړي."(8)

له دې پورتنیو حوالو څخه دا خبره واضح شوه، چي د واده د پاره کوم عمرونه ټاکل شوي دي دا صرف تر یوې سیمې یا قبیلې پورې محدوده نه دي، بلکې په ټولو پښتني قبیلو کې د واده د پاره ټاکل شوي دي. هم دغه عمر په ړوب ګیزیټیر کې یاد شوي دي.

"په بډایه او مړو کورنیو کې یو هلک تر شل کاله مخکې واده نه کوي، ناوې عموماً تر هغه څلور کاله کشره وي، خو په ټیټ معیشت لرونکو طبقو کې هلک او ناوې کابو هم

عمره او سره همځولي وي، څه خلک د خپلو اولادونو کوزدې په ماشومتوب کې کوي، دا ډول کوزدې عموماً په نيږدې خپلوانو کې تر سره کېږي، په عمومي توګه د خوښۍ واده کولو دود نشته ." (9)

دا پورتنۍ حوالې چي له کومو کتابونو څخه رااخيستل شوي، لکه پښتونولي، د کابل سلطنت بيان او ډروب ګيزيټير، ماخذونه پردې خبره باندي متفق دي چي له اتلسو کالو څخه بيا تر وشلو کالو پوري په عمرکښي ودونه کول رواج لري. مګر په يويشتمه پېړۍ کښي دا تصور له بدلون سره مخامخ دی. ځنګه چي د ټولني اقتصادي حالت بدليږي، کلتوري اقدار هم ورسره تغير خوري. دا وخت د پښتني ټولنه اقتصاد د پخوا په ډول ترمالداري، کروندې يا کوچيتوب پوري محدوده نه دی، بلکې د نوي حالاتو سره سم د نوي عصر لارې چارې (معاملات) تر سره کوي. له دې بحث څخه داسي پايله اخځ کيږي، چي په اوسني وخت کې د ټولني هر وګړی دا فکر لري چي خپل بچي (که نر وي که ښځه) د تعليم په زېور ښايسته کړي او د ټولنې د يوه مهذبه او باشعور وګړي په حيث ژوند تېرکړي. ځنګه چي په ټولنه کښي د ليک او لوست کچه لوړيږي، زاړه رواجونه هم ورسره اصطلاح کيږي. ځکه اوسمهال په پښتني ټولنه کښي د پخوا په څېر د کم-عمرۍ ودونه ډېرکم شوي دي. مګر په ځيني کليوالو سيمو کښي خلګ اوس هم د کم-عمر ودونو ته ترجيح ورکوي، چي تر شاه يې ډير علتونه برخه لري.

**د سهيلي پښتونخوا په قبائلي ټولنه کښې د واده اداره**:

واده که څه هم د ټولنيز اومعاشي ارزښتونو او مذهبي تعليماتو په رڼاکښې د يوه پائيداره ادارې بنه خپله کړې ده، خو کله چي موږ د واده ب بيلا بيلو دودونو، رسمونو او رواجونو څېړنه کوو د هغه بيلا بيل تاريخي، تهذيبي ، معاشي او ټولنيز لاملونه مخي ته راځي. خو په بنيادي توګه په پښتني قبائلي ټولنو کښې او په خصوصيت سره د واده بنيادي مقصد هم هغه دی کوم چي د انساني نسل په پېل کښې ؤ يا بيا د نن څخه زر کلونه وړاندي دبېټ نيکه په ذمانه کښې چي ؤ. زموږ د دې دعوې لپاره به موږ يو ځل بيا د بېټ نيکه هغه ټکي راواخلو چي د يوه نسل د پائيښت او ډېرښت بنيادي علامتونه وي.

مېړونه ، مېني آبادوي، نور وګړي زيږوي، خاندانونه په جود کښې راځي، واړه بورجلونه پراخ شي، کورګی په يوه لوی ټبربدليږي، لوی بورجلونه په ډيرو وړو وړو بورجلونوکښې ماتيږي، او د ډېرښت په سوب يو ټبر، قبيله او قام د خپل پائيښت ولورته غاړه هسکه وي.

د بېټ نيکه په مناجاتو کښې هم د نارينه وګړو يا مېړونو د زياتوالي دوعاشوې ده، ولي چي د خاندان سربراه هغه وخت هم نارينه ؤ، مېنه ،کلا،کلی او ټبر د نارينه په نامه يادېدل ځکه نو دلته خبره هم هلته راځي چيري چي موږنن ولاړ يو.

که چیري موږ دواده دودونو څېړنه وکړو نو دلته به هم ډېرې داسي خبري مخي ته راشي چي د واده هم دغه ارزښت به ورڅخه ثابت شي. کله چي د ایم فل د دې تحقیقي پروژې لپاره د بیلا بیلو ښځو او سړیو سره مرکې وشوې نو یوه خبره دا جوته شوه چي د واده تر ټولو اولنی ګام د هلک د کورنۍ لخوا د انجلۍ انتخاب وي. د راغونډ کړیو معلوماتو د چڼلو په نتیجه کښې موږ دې نتیجه ته رسو چي کله د یوه هلک لپاره انجلۍ کتل کیږي یا یوې انجلۍ ته د هلک له لوري مرکه کیږي نو له دواړوخواؤڅخه دا تسلي کیږي چي آیا د انجلۍ په خاندان کښې خو به داسي ډیري ښځي وچي (شنډې) یا بې اولاده نه دي چي وروسته بیا د هلک د بې اولادۍ سوب وګرځي. د انجلۍ له لوري هم د دې خبري سپیناوی کیږي چي د هلک په خاندان کښې خوبه څوک داسي وچ ، یا دکوشني د پیدا کولو یاخاندان د جوړولو په عمل کښي ناکامه نه وي پاتي شوی، کوم چي وروسته بیاد انجلۍ لپاره د بې اولادۍ سوب جوړیږي.

د خوښۍ یا د عاشقۍ د ودونو رواج په عمومي توګه پخوا بیخي نه ؤ، خو اوس هم تر ډېره حده د هلک لپاره د انجلۍ انتخاب د کور وګړي کوي، د دې څخه هم موږ تر ډیره حده دا حقیقت را سپړلی شو چي د هلک او انجلۍ د واده تر شاه بنیادي لامل د یوه خاندان جوړول وي او د خاندان لپاره بائید په جذباتي توګه پرېکړې ونه شي.

یوه خبره دلته داجوتیږي چي د نارینه کوشنیانو پیدا کول او یو بل خاندان تشکیلول دواده بنیادي مقصد ګڼل کیږي. دویمه خبره دا ده چي د یوې نرواکه ټولني په صفت خاندان د نارینه په نوم یادیږي، بچیان د پلار په نامه یادیږي، خو کوم ټولنیز حفاظت چي د نارینه اولاد د پیدا کولو په صورت کښې نر یا پلار محسوسوي، هم هغه احساس موریاښځه هم محسوسوي.

کله چي ورا راشي نو د ناوې د سوارلي و مخ ته اوبه ور اچول کیږي، اوبه په پښتني روایت کښې دآبادۍ او لندېدو نخښه ګڼل کیږي. د لوند متضاد ټکی وچ دی، اوکومه ښځه، غوا ، مېږه، اسپه، اوښه چي د کوشني د پیدا کیدلو یالنګیدلو صلاحیت له لاسه ورکړي هغه ته وچه وئیل کیږي. د ورا د مخي ته اوبه ور اچول په اصل کښې یو نیک شګون ګڼل کیږي د کوم څخه چي د ناوې لندېدل یا د ډېرو زامنو مور جوړېدل مراد وي.

کله چي ناوې و خوني ته ننه ایستل کیږي، نو د ښې لاس د نصیب ګوته یې د خوني د زنځیر تر کړۍ ور اېستل کیږي، چي مراد یې هم دا دی چي دغه خونه دي په تاآباده شي ، او له هم دې خوني څخه د دې میني مړویان وزېږي.

د ناوې پر سر په عمومي توګه زرغون ټیکری یا د هغې تر ملا زرغون سپېنسۍ ور تړل هم یو نیک فال ګڼل کیږي.چونکه زرغون چي په عمومي توګه پښتانه ورته شین وائي، د کښت و کر، آبادۍ

اوسوکالۍ نخښه وي، و ناوي ته زرغون شال یاټيکری ورپه سرکول په اصل کښې د هغې د ډېر اولاد د زېږولو هیلي ور سره تړلي وي.

**ولور د پښتني قبائلي ټولني د رغښت بنسټيز دود:**

که چیري موږ دا خبره ومنو چي د واده یواځینی مقصد خو خاندان جوړول او د خپل کهول، ټبر، قبیلې یا قام د مېړونو او وګړو تعداد ذیاتول دی نو بیا خو بائید د واده کول تر ټولو آسانه کار وای.د انجلۍ یا ناوي د را ودولو لپاره بائید دومره ولور، یا واج نه وای چي د هلک یا ځوان ملا خوارۍ، مسافرۍ یا زاره ترکۍ په غوبل کښي وتړي. ولور په عمومي توګه هغه روپۍ وي کومي چي د زوم د خاندان له لوري د انجلۍ و پلار یا د خاندان و بل مشر ته ادا کیږي.

اوس دلته موږ یو ځل بیا د پښتونولۍ د ژوند دود په تناظر کښې د دې علت کتلی شو. چونکه پښتني ټولنه په عمومي توګه یوه نرواکه ټولنه ده، او دلته د خاندان بنسټګر نارینه ګڼل کیږي او کورونه، ټبرونه او کهولونه د نرانو په نومو یادیږي ځکه نو د واده کولو، خاندان جوړولو، کوشنیان پیداکولو او روزلو ټوله ذمه واري د نارینه پر اوږو وي. ولور ګڼل یا د واج لپاره څاوري او مال ګټل او برابرول د نارینه زمه واري جوړیږي. د ځوان یا زوم لپاره دا یو آزمائیش وي چي هغه دولور یا واج دومره روپۍ یا دولت و ګټي چي خسر ته يې ورکړي هغه د یوه نوي کور هر شی په واخلي او د دې سره سره د کلیوالو، عزیزانو او قریبانو د خورولو بندوبست یعني د واده د مړۍ او د ورابانو د بیولو او راوستلو انتظام هم وکړی شي.

دلته د ولور وضاحت وشو، البته د واج په حقله به ؤ وایو چي په لرغوني پښتني ټولنه او په خصوصیت سره د کوچیاني ټولني دا یو دود ؤ چي کوزدې پر وخت به يې د انجلۍ په بدل کښې یو څه نغدي روپۍ او باقي مانده څاروي ورکولو پرېکړه وکړه. ځېني وخت به نغدي روپۍ له سره نه وې ناوې (انجلۍ) به يې د څارویو په مقابل کښې واده کړه. اروابناد ابراهیم عطائي په خپل کتاب کښې لیکي:

"واج د ولور هغه ډول دی چي د سلو روپۍ غوا خسر ته په پینځه سوه روپۍ ورحسابول کیږي، یو ترتیب شته چي غوا په څو،خر په څو او د کور کالي باید څه رنګه په واج تسعیر شي".(10)

ولور د پښتني ټولني د ټولنیز رغښت (Social Structure) یو داسي عنصر دی چي د ټولني کلتوري او معاشي ژوند وربادي را چورلي. ولور ګڼل د نارینه لپاره یو ټیسټ کیس یا آذمائیش وي. پر نارینه د ټولنیز فشار تر ټولو څرګنده ځای هم دغه وي چي آیا نارینه د ولور ګټلو صلاحیت لري که یا؟ د ټولنیز رغښت دغه عکس موږ په ډېرو شفاهي او محلي قیصو کښي اوریدلی دی، دا مهال هم په لکهونو پښتانه ځوانان د خپل یا ورور او زوی د ولور ګټلو لپاره د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د مسافرۍ ژوند تېروي. د پښتو د رومانوي نکل هیرو مومن خان دشیرینو ولور ګټلو لپاره دوولس

کاله په هندوستان کښې تېروي لکه څه ډول چي ېي په نکل کښې د مور دغه سوې ناره تر موږه را ررسېدلې ده.

"د هندوستان پر لوري ځمه          د شیرینو ولور ګټم بیا به راځمه"(11)

"مومن مي دوولس کاله تللی          پر دوولسم کال چي راتلی اجل نیولی."(12)

همدغه ډول په ټپه ، کاکړۍ غاړه او نورو فوکلوري صنفونو کښې پر نارینه باندي د ولور ګټلو د ټولنیز فشار عکس موږ له ورایه لیدلی شو.دلته د بېلګي لپاره یوه کاکړۍ غاړه او ټپه موږ راوړلی شو:

" تور پټکی تړلی ښه سې          زما ولور ګټلی نه سې

هېځ وطن یې کځ یله          نه سوم په ګران پوري بای ښه" (13)

"پردېسی ځوني ازاد کې          ما زړل چي به چا یاد کې" (14)

هم دغه ډول په ډېرو ټپو کښي د ولور د ګټلو ټولنیز فشار پر نارینه لکه تندر را لوېدلی دی

**پایله**:

ددې اوږده بحث په نتیجه کښې موږ دې نتیجې ته رسیږو چي په پښتني قبائلي ټولنو او په خصوصیت سره د سهیلي پښتونخوا په زیاترو سیمو کښې د واده بنیادي مقصد د نارینه اولاد پیدا کول کوم چي وروسته د خاندان څخه تېر او کهول جوړوي. ذیاتره ودونه د هلکوانو د خاندان مشران کوي ، او هغوی د خپل هلک لپاره د داسي خاندان څخه انجلۍ غواړي چي د نارینه اولادونو په پیدا کولو کښې شهرت لري. نارینه اولاد د مېني مړوی یعني د یوه خاندان ګڼل کیږي او کله چي یوه ښځه خپل خاوند ته د نارینه اولاد په ورکولو کښې ناکامه شي نو د هغې و خاوند ته د بل واده یا ودونو ټولنیز جواز او قبولیت بیا هم موجود وي. د واده کولو ، ولور ګټلو او خاندان د کفالت زمه واري ټوله پر نارینه وي، او نارینه هم د ټولنیز فشار له امله و خوارۍ، او پردیسۍ ته د خپل ژوند لویه برخه ورکوي.

## حوالې


1)Coontz, S.. The world historical transformation of marriage. *Journal of Marriage and the Family*, (2004), p p.974-979.

2)Tylor, Edward B. Anthropology –An introduction to the study of man and civilization. Deflaton Company New York, (1923), p p.402-405

3) Ibn-Kathir Al-Qur'an Tafsir ،Surah 5. Al-Maida . Ayah 27

4)ماکو، سلېمان، تذکرت اولیا. سریزه او نښلوني، عبدالحی حبیبي. کندهار:صداقت خپرندویه ټولنه، ارګ بازار، کتاب او قلم مارکېټ، کابل،(۱۳۹۹), مخ ۲۳

5)ریګویدا. باب ۶. فصل ۷۰۶، مخ ۷۷

6)Mayo, K. *Mother India*. Aegitas.(2015),p.15

7)جلالپوري، علي عباس،رسوم اقوام ، تخلیقات لاهور،(۲۰۰۳)، مخ ۳۸.

8)الفنستېن ،مونټسوارټ،ژباړه محمد حسن کاکړ، د کابل سلطنت بیان، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور،(۲۰۰۸)، مخ ۱۸۹، ۱۹۰

9)اتل، میر حسن خان،لرغونی ږوب, پښتو اکېډمی کوټه، بلوچستان ( ۲۰۱۹)، مخ ۱۲۸

10)ابراهیم عطائی، محمد،هیلمند د کلتور په ساحه کې، خپروونکی د اطلاعاتو او کلتور وزارت،(۱۳۴۴), مخ ۶۴

11)نوري، محمد ګل،ملي هینداره ، ثمر د ژبپوهني نړیواله موسسه، کندهار،(۲۰۱۳), مخ ۱۳۸

12)همدغه ،مخ ۱۵۲

13) عارف، سید خېرمحمد،د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي،(۱۹۹۵) مخ ۳۰۵

14) همدغه ، مخ ۲۱۲